**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**

**د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۰۱** (از ۱۲ الی ۱۹حمل ۱۳۹٦ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ............................................................ ۲

**د افغان سولې په تړاو پیلېدونکي بهرني پرمختګونه**

د ملي یووالي حکومت پرمهال د سولې ارزونه ............................................ ۴

د سولې پروسې روان بن‌بست ............................................ ۴

د سولې په تړاو د امریکا نامعلومه تګلاره ............................................ ۵

د سولې په تړاو د مسکو ناسته؛ آیا د سولې بهیر بدلېږي؟ ............................................ ٦

**روابط کابل-کانبرا و سفر اخیر غنی به استرالیا**

روابط استرالیا – افغانستان ............................................ ۹

روابط دو کشور پس از ایجاد حکومت وحدت ملی ............................................ ۱۰

نخستین سفر رسمی غنی به استرالیا ............................................ ۱۱

نتیجه‌گیری ............................................ ۱۱

## مقدمه

د څلور اړخیزو خبرو اترو له پنځمې ناستې وروسته دا دی لس میاشتې اوړي؛ خو بیا هم د سولې په تړاو پر کوم نوي میکانیزم غور نه دی شوی او نه هم افغان حکومت د سولې په تړاو د خپلې تېرې تګلارې نه یوازې دا چې ارزونه نه ده کړې، بلکې په دې اړه اوس د حکومت له اړخه کوم جدیت هم نه تر سترګو کېږي.
همدا لامل دی، چې د سولې پروسه او امنیتي وضعیت له بُن‌بست سره مخ شوی. په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو قوماندان جنرال نیکلسن د دغه بن‌بست ماتولو لپاره د نورو بهرنیو سرتېرو غوښتونکی دی او روسیې، چین او پاکستان بیا په بل اړخ کې د افغانستان په تړاو د مسکو پروسه پیل کړې ده.
دا چې د افغان سولې پروسه د ملي یووالي حکومت پر مهال تر دې دمه څه ډول روانه ده، د افغان سولې په تړاو د امریکا تګلاره څه ده او دغه راز په مسکو کې د ۱۲ هېوادونو د راتلونکې ناستې اغېز به د افغانستان د سولې په پروسه څه وي؟ د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د دې اوونۍ د تحلیل په لومړۍ برخه کې پرې شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې استرالیا ته د افغان ولسمشر په مشرۍ د لوړپوړي دولتي پلاوي د رسمي سفر او دواړو هېوادونو د دواړخیزو اړیکو په اړه لولئ. په یاد سفر کې افغان لوري له استرالیایي چارواکو سره د بېلابېلو کتنو او بحثونو تر څنګ، د دواړه هېوانو ترمنځ د هر اړخیزو همکاریو په موخه د ۳۲۰ میلیونو ډالرو په ارزښت هوکړه هم لاسلیک کړه. استرالیا هغه هېواد دی چې په بېلابېلو برخو کې یې له ۲۰۰۱م کال راهیسې له افغانستان سره ۹۰۰ میلیونه ډالر مرسته کړې ده.

# د افغان سولې په تړاو پیلېدونکي بهرني پرمختګونه




له تېرو څو میاشتو راهیسې سیمه‌ییزو او نړیوالو ځواکونو د افغانستان د سولې په تړاو هلې ځلې پیل کړې دي. په مسکو کې د افغانستان په تړاو جوړېدونکی کنفرانس او وروستي پرمختګونه یې یوه بېلګه ده.

دغه راز تېره اوونۍ د امریکا د بهرنیو چارو وزیر رکس ټلرسن د ناټو د بهرنیو چارو وزیرانو په وروستۍ غونډه کې وویل چې امریکا د افغان دولت او طالبانو ترمنځ سولې ته ژمنه ده. دا په داسې حال کې ده، چې د امریکا یو شمېر جنرالان افغانستان ته د نورو سرتېرو د لېږلو غوښتونکي دي. په بل اړخ کې په امریکا کې د پاکستان نوي سفیر اعزاز احمد هم د افغان سولې په تړاو خپل پنځه‌نکاتي فورمول د افغانستان په تړاو د ټرمپ اداري د تګلارې له اعلانېدو وړاندې څرګند کړی دی.

دا چې د افغان سولې په تړاو د هېواد له داخل څخه پیل شوې تګلاره تر بهرني ابتکاره څرنګه راورسېدله، د سولې په تړاو د امریکا تګلاره څه ده، د مسکو د راتلونکې ناستې تاثیرات او د افغان سولې په تړاو د زبرځواکونو همغږي/ناهمغږي څه ده؟ په دغه تحلیل کې یادې پوښتنې ځواب شوې دي.

## د ملي يووالي حکومت پرمهال د سولې ارزونه

د ملي يووالي حکومت له راتګ سره، د افغانستان په تړاو د سولې پروسه يو ځل بيا پيل شوه؛ خو د تېر په پرتله نه دا چې په رسنيو کې خبر جوړوونکې وه، بلکې د افغان حکومت دا نوې تګلاره د تېر په پرتله په يو ډول توپير سره پلې شوه. د سولې په تړاو تر ډېره تکيه پر چين او پاکستان وشوه او له همدې کبله له طالبانو سره د مري ناسته هم وشوه. خو د مري له ناستې وروسته، له طالبانو سره د مخامخ خبرو اترو دويمه ناسته ترسره نه شوه.

د سولې پروسې او له طالبانو سره د خبرو اترو په موخه د څلور اړخيزې همکارۍ ډله جوړه شوه، ترڅو د پاکستان او افغانستان لهخوا د شوو ژمنو تضمين وکړي. په هغه ډله کې د افغانستان او پاکستان ترڅنګ د چين او امريکا استازي هم شامل شول. دغې ډلې هم د سولې په تړاو پنځه ناستې ولرلې؛ خو دا ځل دغې ډلې يا پروسې له طالبانو سره د خبرو اترو په تړاو کومه لاسته راوړنه نه درلودله.

وروستيو دوونيمو کلونو ته په کتلو سره، د ملي يووالي حکومت دا تګلاره چې د سيمهييزو هېوادونو پرمټ به طالبان د خبرو اترو مېز ته حاضروي، تر ډېره ناکامه شوې. په دغه موده کې يې يوازينۍ برياليتوب يا لاسته راوړنه له حزب اسلامي (حکمتيار) ډلې سره د بينالافغاني لارې د سولې تړون لاسليک کول دي؛ خو بيا هم دا تړون تر ډېره د حزب اسلامي د تمايل له کبله و، نه د افغان حکومت د کوم فوقالعاده ابتکار له کبله.

## د سولې پروسې روان بنبست

که څه هم طالبانو د مري خبرې اترې رد نه شواى کړاى؛ خو په يو غبرګوني چلند کې يې په قطر کې د طالبانو سياسي دفتر واک زيات کړ او نوموړى دفتر يې له طالبانو سره د خبرو اترو يوازينۍ ادرس وګاڼه. وروسته يې د سولې په تړاو د څلور اړخيزو خبرو اترو په نوې پيل شوې پروسه کې هم ګډون رد کړ.

د طالبانو له دغه اعلانه وروسته، تقريباً يو کال اوړي، خو پر دغه مهال د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړيکو کړکيچ زيات شو. د افغان حکومت او طالبانو تر منځ بې باوري زياته شوه. طالبانو جګړه توده وساتله. د دې ترڅنګ د افغانستان د قضيې بل اساسي لوري امريکا هم تر ډېره پاملرنه ولسمشرۍ ټاکنو ته وه. له همدې ځايه دغه حالت د سولې پروسه له بندو دروازو سره مخ کړه او پر دغه مهال د يو څو ورو پېښو پرته د سولې په تړاو کوم دريځ/پريکړه او يا هم ګام وانه خيستل شو.

## د سولې په تړاو د امریکا نامعلومه تګلاره

که څه هم د امریکا د پخواني ولسمشر بارک اوباما په وروستیو دوو کلونو کې، امریکا د افغانستان د سولې په خبرو اترو کې د څارونکي یا په یو ډول د منځګړي رول ولوباوه، چې بېلګې یې د مري او څلور اړخیزې خبرې اترې دي. خو په امریکا کې د نوي اداري له راتګ سره، تر اوسه نه دا چې د افغانستان سولې په تړاو کومه تګلاره اعلان شوې نه ده، بلکې په مجموع کې د سویلي اسیا پر لور د امریکا تګلاره هم تر ډېره نامعلومه برېښي.

د سویلي اسیا په تېره بیا د افغانستان او پاکستان په لور د امریکا تګلاره له پنځو میاشتو وروسته هم ناڅرګنده ده. په دې تړاو یوازې د هند پر لور د امریکا بهرنی سیاست یو څه واضح دی، د امریکا ولسمشر ډونلډ ټرمپ د هند له ولسمشر نارېندرا مودي سره څو ځله پر ټلیفون خبرې کړي، د دواړو هېوادونو د ملي امنیت سلاکارانو ترمنځ هم خبرې اترې شوي. له همدې ځایه ده، چې د دواړو ترمنځ په دغه ناڅرګند حالت کې همغږي شته ده. په بل اړخ کې د پاکستان او افغانستان په تړاو د ټرمپ تګلاره تر ډېره نامعلومه برېښي او د ۲۰۱٦ کال د نومبر میاشت راهیسې تر اوسه ټرمپ د دغو دوو هېوادونو په تړاو کومه څرګنده تګلاره نه ده اعلان کړې، پرته له دې چې د پاکستان لومړي وزیر محمد نواز شریف او د افغان ولسمشر اشرف غني سره تلیفوني تماس ولري.

د پاکستان او افغانستان په تړاو د امریکا په تګلاره کې د دې ناڅرګندتیا لوی لامل د ټرمپ اداري له خوا د دغې سیمې په تړاو د پالیسۍ نه جوړول دي. په افغانستان کې د امریکا د پخواني سفیر زلمي خلیلزاد په اند شونې ده، چې د روان کال د اپریل میاشت په وروستیو او یا هم د مۍ میاشت په پیل کې د افغانستان-پاکستان په تړاو د امریکا نوې تګلاره اعلان شي.

دلته یوه یادونه اړینه برېښي، چې په افغانستان کې د سولې په تړاو تګلاره د سویلي اسیا پر لور د امریکا د تګلارې یوه برخه ده. له همدې ځایه ده، چې د افغانستان د سولې په تړاو د امریکا تګلاره به تر ډېره د سویلي اسیا پر لور د دوی له تګلارې اغېزمنه وي او هر کله چې دا تګلاره اعلان شي، نو د سولې په تړاو د امریکا تګلاره هم به هم تر ډېره واضح شي.

که څه هم امریکا په رسمي توګه د سویلي اسیا او د افغانستان د سولې په تړاو تګلاره نه ده اعلان کړې؛ خو بیا هم د ځینو امریکایي جنرالانو او اوس په دې وروستیو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر له خوا د افغانستان د سولې په تړاو څرګندونې شوي. دا هم له یو بل سره تر ډېره ضد و نقیض دي. د بېلګې په توګه د امریکا د بهرنیو

چارو وزير رکس ټلرسن تېره اوونۍ په لومړي ځل د افغانستان د سولې په اړه خبرې وکړې. د امريکا د بهرنيو چارو وزير د ناټو د بهرنيو چارو وزيرانو په وروستۍ غونډه کې وويل: "په افغانستان کې د سولې راوستلو لپاره د ناټو ائتلاف ژمن دی، چې پای د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ جوړ جاړی وشي. د ائتلاف ګټې خوندي شي او دا خبره يقيني شي، چې افغانستان بيا د تروريزم لپاره پر خوندي ځای بدل نه شي." د امريکا د بهرنيو چارو وزير څخه وړاندې په افغانستان کې د بهرنيو سرتېرو مشر جنرال نيکلسن د امريکا سنا ته په خپله وينا کې وويل، چې په افغانستان کې د اوسني بن‌بست ماتولو په تړاو اړينه ده واشنګټن افغانستان ته نور پوځونه ولېږدوي.

## د سولې په تړاو د مسکو ناسته؛ آيا د سولې بهير بدلېږي؟

په عمومي توګه له ۲۰۰۹ کال څخه د ۲۰۱٦ کال تر پايه د سيمې ډېری هېوادونه په دې همغږي وو، چې په افغانستان کې سوله اړينه ده. دغه راز د افغانستان د سولې په تړاو دوی د افغان حکومت او امريکا پرته کومه جلا پروسه هم نه وه پيل کړې. خو د ۲۰۱٦ کال په پای کې په مسکو کې د افغانستان په تړاو د روسيې، چين او پاکستان درې اړخيزه غونډه هغه لومړۍ هڅه شوه، چې د افغان حکومت او امريکا پرته د افغانستان د سولې په تړاو د سيمې يو شمېر هېوادونه سره جرګه کېږي. په سيمه کې د داعش ظهور او پراخېدنه، په نړيوال سياست کې د روسيې او امريکا ټکر او د دغه فکر او وېرې شتون چې امريکا د افغانستان د ستونزې حل نه غواړي د مسکو ناستې تر شا عمده لاملونه ګڼل کېږي.

د مسکو د پروسې له پيلېدا سره افغان حکومت سخت غبرګون وښود. همدا لامل و، چې وروسته د مسکو په دويمه ناسته کې افغان حکومت هم وبلل شو او په دغه پروسه کې يې شپږ هېوادونه ځای کړل. شونې ده، چې د اپريل په ۱۴مه د دغې پروسې درېيمه ناسته هم ترسره شي او تقريباً ۱۲ هېوادونه پکې برخه واخلي. مسکو په دغه ناسته کې واشنګټن او طالبان هم رابللي خو د خبري راپورونو له مخې امريکا په دغه ناسته کې ګډون رد کړی. ځکه د واشنګټن په اند مسکو او تهران له طالبانو سره مرستې کوي او له همدې ځايه د دوی په اند د سولې په پروسه کې رول نه شي لوبولای.

د افغانستان د سولې په تړاو د مسکو ناسته د سکې دوه مخونه لري او کولای شي، چې د افغانستان د سولې په قضيه کې مهم رول ولوبوي او هم د افغانستان روان وضعيت نور پيچلی کړي. خو دا به تر ډېره په روسيې،

امریکا، افغان حکومت او طالبانو پورې تړلې وي. ځکه که له دغې ناستې عمده موخه د سولې له خبرو اترو وړاندې او ډېر له سیمې د امریکایانو شړل وي، نو له دې سره به افغان حکومت او امریکا سخت مخالفت وښيي. له طالبانو سره به د سیمه‌ییزو هېوادونو روابط پراخ شي او د سولې پروسه به همداسې پاتې وي. خو که موخه ترې منځنۍ اسیا له تاوتریخوالي ژغورل وي، په یو ډول له افغان حکومت سره د طالبانو سوله او بیا د یو مهال‌وېش له مخې د امریکایانو وتل وي، نو تاثیرات به یې تر ډېره مثبت وي.

# روابط کابل-کانبرا و سفر اخیر غنی به استرالیا



رئیس جمهور افغانستان در رأس یک هیأت عالی‌رتبهٔ دولتی در نخستین سفر رسمی‌اش به استرالیا به تاریخ (۱۳ حمل ۱۳۹٦ هـ ش) عازم آن کشور شد. اشرف غنی در این سفر با مقام‌های ارشد استرالیا و افغان‌های مقیم آن کشور، دیدار و پیرامون موضوعات مختلف بحث و تبادل نظر کرد.

در جریان این سفر موافقتنامه‌ای نیز در امور توسعه‌یی به ارزش ۳۲۰ میلیون دالر میان دو کشور امضا گردید و گفته می‌شود که این پول طرف ۴ سال از سوی استرالیا به افغانستان پرداخت خواهد شد. در کنار این، دو طرف توافق کردند تا در بخش‌های پروژه‌های بنیادی، معارف، زراعت و آبرسانی، آموزش افراد ملکی و مبارزه با فساد اداری نیز با یکدیگر همکاری خواهند کرد.

در این تحلیل بر پیشینهٔ روابط افغانستان ـ استرالیا، حضور نظامی این کشور در افغانستان و چگونگی روابط میان این دوکشور پس از ایجاد حکومت وحدت ملی پرداخته شده است.

## روابط استرالیا – افغانستان

نظر به برخی معلومات، برای اولین بار در سال ۱۸٦۰م سه تبعۀ افغان با محمولۀ ۲۴ شتر وارد شهر ملبورن این کشور شدند، اما گفته می‌شود که پیش از آن نیز در سال ۱۸۳۸م شماری افغان‌ها بدون کدام محموله به مناطق غیرشهری استرالیا رفته بودند و در رساندن دین مبین اسلام به آنجا و همچنان در ساخت اولین مسجد در جنوب این کشور، نقش داشتند.

استرالیا که کوچکترین قارۀ جهان است، یکی از دورترین کشورها از افغانستان می‌باشد. این کشور پیش از حضور نظامی در افغانستان (قبل از سال ۲۰۰۱ م) نقش چندانی در مسائل افغانستان نداشت؛ اما پس از آنکه نیروهای استرالیایی در سال ۲۰۰۱م در چهارچوب نیروهای ائتلاف بین‌المللی وارد افغانستان شدند، در عرصه‌های مختلف با حکومت افغانستان همکاری کرده‌اند.

استرالیا در چهارچوب نیروهای ائتلاف بین‌المللی حدود دو هزار سرباز خویش را به افغانستان فرستاد و این سربازان در ولایت ارزگان مستقر شدند که در پایان ماموریت جنگی ناتو در افغانستان در ماه دسامبر سال ۲۰۱۴م قسمت برزگ این نیروها از افغانستان بیرون شدند و در حال حاضر ۲۷۰ سرباز این کشور در چوکات ماموریت جدید ناتو در افغانستان فعالیت دارند که ظاهراً هدفش آموزش، مشوره و کمک با نیروهای افغان است. نظر به گزارش‌ها در جنگ افغانستان ۴۲ سرباز استرالیایی کشته و صدها تن دیگر آن‌ها زخمی شده‌اند و هزینه‌های نظامی استرالیا در افغانستان نیز به ملیون‌ها دالر می‌رسد.

استرالیا علاوه بر اعزام سربازان نظامی به جنگ افغانستان، در بخش‌های بازسازی و اقتصادی نیز با افغانستان همکاری داشته است. به تاریخ (۳۱ ثور ۱۳۹۱ هـ ش) افغانستان و استرالیا توافقنامۀ همکاری‌های استراتیژیک دوجانبه را به امضا رساندند. در این توافقنامه حکومت استرالیا متعهد شده است که افغانستان را برای عضویت در سازمان تجارت جهانی به عنوان یک کشور کمتر توسعه‌یافته حمایت می‌نماید، در گسترش همکاری های دوجانبۀ اقتصادی با افغانستان از طریق نهادهای مربوطه سکتور خصوصی و عامه تلاش می‌نماید و برای کالاهای صادراتی افغانستان نیز معافیت محصول گمرکی بخشی از آن توافقنامه بود. همچنان حمایت‌های تخنیکی خود را در جهت استندردسازی محصولات افغانستان که بتواند در بازارهای استرالیا قابل عرضه باشد دوام بخشد و برای ایجاد محیط مناسب سرمایه‌گذاری در افغانستان و همچنان تبادله هیئت‌های تجارتی بین دو کشور تلاش ورزد.

در کنار این، هر دو کشور به تاریخ (۸ جوزا ۱۳۹۲ هـ ش) شورای تجارتی استرالیا – افغانستان را ایجاد کردند. هدف از تاسیس این شورا، ایجاد هماهنگی بین جامعۀ تجاری و اجتماعی در کشور، آگاهی‌دهی از وضعیت اقتصادی کشور به منظور جذب سرمایه‌گذاران استرالیایی و افغان‌های مقیم استرالیا برای سرمایه‌گذاری در افغانستان، ارتقاء و تسریع روابط تجارتی تاجر ان افغان با تاجران سایر کشورها، تبادله آخرین معلومات تجارتی بین اتاق تجارت و صنایع افغانستان و آن شورا و همچنان ایجاد یک پل ارتباطی بین جامعه سکتور خصوصی دو کشور می‌باشد.[1]

استرالیا برای بازسازی افغانستان از سال ۲۰۰۱م تا زمان تشکیل حکومت وحدت ملی بیش از ۷۰۰ میلیون دالر به افغانستان کمک کرده بود و عمده‌ترین کمک این کشور به افغانستان ۲۰۰ میلیون دالری بود که در سال ۲۰۰۸م در کنفرانس پاریس اعلام کرد. با این همه استرالیا یکی از کشورهای است که هزارها افغان در آن مسکن‌گزین اند و هزارها تن دیگر خواستار پناهنده‌گی در آن کشور اند.

## روابط دو کشور پس از ایجاد حکومت وحدت ملی

استرالیا یکی از مهمترین کشورهای کمک‌کننده به برنامه‌های توسعه‌ای افغانستان به ویژه زراعت در این کشور است و تنها در دو سال گذشته حدود ۱۳۰ ملیون دالر را در اختیار بخش‌های توسعه‌ای افغانستان گذاشته است. پس از تشکیل حکومت وحدت ملی، نخست‌وزیر استرالیا در ماه جدی ۱۳۹۴ هـ ش به کابل آمد و در بخش‌های مختلف از همکاری‌های استرالیا با افغانستان تعهد کرد. در نشست وارسا که به تاریخ (۷ جولای ۲۰۱۶م) برگزار شد، کشور استرالیا تا سال ۲۰۲۰ م ۳۰۰میلیون دالر با نیروهای افغان اعلام کمک کرد.[2] علاوه بر این استرالیا در نشست بروکسل نیز وعده سپرد که تا سال ۲۰۲۰م سالانه ۸۰ میلیون دالر به افغانستان کمک خواهد کرد و در بخش‌های بازسازی چرخ بال‌های آسیب دیده و تجهیز سیستم‌های ضد ماین با نظامیان افغان تعهد همکاری کرد.[3]

[1] اطاق تجارت و صنایع افغانستان، http://www.acci.org.af/da/home/38-news/536-n.html

[2] بی بی سی فارسی، http://www.bbc.com/persian/afghanistan/2016/07/160708_k05_nato_summit_warsaw_afghanistan

[3] وزارت امور خارجه افغانستان، "گزارش تفصیلی نشست بروکسل در مورد افغانستان"

## نخستین سفر رسمی غنی به استرالیا

سفر اخیر اشرف غنی به استرالیا نخستین سفر رئیس جمهور غنی و نیز نخستین سفر او منحیث اولین رئیس جمهور افغانستان به کشور استرالیا بود.[4] در جریان این سفر اشرف غنی با نخست وزیر استرالیا، گورنر جنرال، وزرای خارجه و دفاع، رئیس استخبارات، محققان استرالیایی و همچنان متخصصان و بزرگان افغان‌های مقیم آن کشور به گونهٔ جداگانه پیرامون همکاری‌های دو جانبه و مسایل مربوط دو کشور بحث و گفتگو کرد.

نخست وزیر استرالیا در دیدار با رئیس جمهور افغانستان بر ادامهٔ کمک‌های این کشور با افغانستان تاکید کرد و افزود که استرالیا به عنوان شریک استراتیژیک بین‌المللی در کنار افغانستان باقی می‌ماند. در کنار این در حضور داشت رئیس جمهور افغان و نخست وزیر استرالیا، وزیر اقتصاد افغانستان و وزیر خارجهٔ استرالیا بر اساس تعهدات کنفرانس بروکسل، موافقتنامهٔ همکاری‌های انکشافی را برای چهار سال به ارزش ۳۲۰ میلیون دالر نیز امضا کرد. در این دیدار، موافقتنامهٔ همکاری تخنیکی و ساینسی نیز میان این دو کشور به امضا رسید.[5]

در این سفر سه روزهٔ هیأت افغانستان علاوه بر نخست وزیر استرالیا، وزرای خارجه و دفاع و گورنر جنرال آن کشور نیز در دیدار با رئیس جمهور غنی تاکید کردند که کشورشان به کمک به افغانستان متعهد است و برای تامین امنیت و ثبات و بهبود وضعیت زندگی افغان‌ها به کمک‌های خویش با این کشور ادامه خواهد داد.

### نتیجه‌گیری

هر چند پس از پایان ماموریت ناتو در افغانستان روابط غرب و سایر کشورهای پیمان ناتو نظر به قبل با افغانستان سردتر گردیده، ولی در شرایط کنونی سفر رئیس جمهور غنی به استرالیا نشان‌دهندهٔ گسترش روابط افغانستان با کشورهای مهم و توسعه‌یافتهٔ جهان است. و غنی تلاش می‌ورزد تا روابط افغانستان را با کشورها کمک‌کننده گرم‌تر نگاه کند و توجه جهانیان را به کمک به افغانستان جلب نماید.

---

[4] ارگ ریاست جمهوری، http://president.gov.af/fa/2017/04/03/%D8%B1%D8%A6%DB%8C%D8%B3-%D8%AC%D9%85%D9%87%D9%88%D8%B1-%D8%BA%D9%86%DB%8C-%D8%A8%D8%A7-%DA%AF%D9%88%D8%B1%D9%86%D8%B1-%D8%AC%D9%86%D8%B1%D8%A7%D9%84-/%D8%A2%D8%B3%D8%AA%D8%B1%D8%A7%D9%84%DB%8C

[5] ارگ ریاست جمهوری، http://president.gov.af/fa/2017/04/04/%D8%B1%D8%A6%DB%8C%D8%B3%E2%80%8C%D8%AC%D9%85%D9%87%D9%88%D8%B1%D8%BA%D9%86%DB%8C-%D8%A8%D8%A7-%D8%B5%D8%AF%D8%B1%D8%A7%D8%B9%D8%B8%D9%85-/%D8%A2%D8%B3%D8%AA%D8%B1%D8%A7%D9%84%DB%8C%D8%A7-%D8%AF%DB%8C

استرالیا کشوری توسعه‌یافته با اقتصاد متکی به تجارت و زراعت است. این کشور دارای تجربیات زیادی در عرصهٔ زراعت و مالداری و استخراج معادن می‌باشد که می‌تواند افغانستان را از این همه تجربیات بهره‌مند سازد. مقام‌های حکومت افغانستان در بارهٔ مدیریت آب نیز با مقام‌ها و محققین استرالیا بحث کردند؛ این‌که افغانستان کشوری دارای آب‌های زیاد می‌باشد، از این‌رو همکاری استرالیا در این زمینه مهم پنداشته می‌شود. علاوه بر همکاری در ساخت بندهای آب، استرالیا به کار در بخش معادن در افغانستان نیز علاقه‌مند است، اگر استرالیا در این عرصه با افغانستان همکاری نماید و نقش مستقیم را در این زمینه به عهده گیرد در رشد اقتصاد افغانستان یگ گام سودمند خواهد بود.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com  csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.